**د ۱۴۰۳ کال د کړنې او لاسته راوړنې:**

۱- د تېرو دریو کلونو د سیلابونو، تندرونو او غره ښوېدو له امله د ۲۸ شهیدانو سروې ورسره د زموږ اداري لخوا د نغدو پیسو مرستې ترسره شوې دي.

۲- د سیمې خلکو اړینې اړتیاء، له پېښو سره د مبارزې ریاست په هڅو ولایت محترم مقام، فوایدعامې او د سیمې خلکو په همکارۍ د اورګوړ پل نږدې د شپږو میلونو افغانیو په لګښت ګټې اخیستو ته وسپارل شو.

۳- پکتیا له پېښو سره د مبارزې آمادګی ریاست لخوا د ۱۰۶۰ زیانمنو او اړمنو کورنیو سروې شوې ورسره د خوراکي او غیر خوراکي توکو مرستې ترسره شوې دي.

۴- د بېړنیو حالاتو ۱۰ نوبتي او بېړنۍ غونډه ترسره شو.ې دي.

۵- په سږ کال کې د طبیعي او غیر طبیعي پېښو له امله ۲۲ شهیدان سروې شوي او ۳۳ ټپیان. ورسره د ریاست لخوا پر وخت د نغدو، خوراکي او غیر خوراکي توکو مرستې هم شوې دي.

۶- (۵۸) د اسیب پذیرو ساحو نقطې راتولې او له مرکز سره شریکې شوې دي.

۷- پکتیا له پېښو سره د مبارزې آمادګی ریاست لخوا د سروې ټیمونو ټولټال ۱۱۴۳ شهیدانو، ټپیانو او زیانمنو سروې ترسره کړې او پر وخت یې ورسره نغدي، خوراکي او غیر خوراکي مرستې کړې دي.

۸- (۲۰) عامه پوهاوي د آسیب پذیره نقطو، پمپونو او ګازو شرکتونو مسوولینو ته ترسره شوي دي.

۹- د اور څخه د مخنیوي کمېټې دوه غونډې ترسره شوې دي.

۱۰- پکتیا کې سیلابونو خلکو ته د زیان رسوني د مخنیوي په موخه د ای او ام(IOM) په مالي ملاتړ له ۱۲ منظور شوو پروژو پینځه پروژې نږدې د څلور سوه زره امریکایي ډالرو په معادل استنادي دیوالونه او محافظوي دیوالونه او د اوبو د مهار په موخه د اوبو کالونو چارې بشپړ شوې او په دقیق ډول ترې نظارت ترسره شوی دی.

۱۱- د ای او ام (IOM) نړیوال سازمان په مالي ملاتړ په مرکز ګردېز او ولسوالیو کې ، زیانمنو، اړمنو او مهاجرو ۲۶۸ کورنیو سروې او ور ته ۱۷۸۰۰ افغانۍ او یو ژمنی کېټ ورکړل شو.

۱۲- له پېښو سره د مبارزې آمادګی ملي اداري د شوي هوکړه لیک له مخې د IRC موسسې په مالي ملاتړ په مرکز کې (۵۷۲ ) او دوو ولسوالیو جاني خیل او روحاني بابا ۷۲۴ اړمنو کسانو ته د ۳۲۰ امریکایي ډالرو معادل افغانیو د ورکړې سروې ترسره شوې او زیاته اندازه پیسې یې هم ترلاسه کړې دي.

۱۳- پکتیا له پېښو سره د مبارزې رییس او له پېښو سره د مبارزې آمر په احمدآبا ولسوالي کې د ماین پاکې د هیلو ټریسټ موسسې له چارو کتنه ترسره کړه.

۱۴- د ای ار سي(IRC) په مالي ملاتړ باندې په احمدابا ولسوالی کې ۲۹۲ کورنۍ په همغږۍ سروې او ورسره د ژمي په موخه هرې کورنۍ ته ۲۲۵۰۰ افغانۍ ورکړل شوې.

۱۵- پکتیا له پېښو سره د مبارزې آمادګی ریاست په همغږۍ او د پاملرنې موسسې په مالي ملاتړ په مرکز او زرمت ولسوالی کې پر ۵۰۰ کورنیو د ژمي په موخه سروې وکړه او نغدي پیسې یې پرې وویشلې ، چې هرې کورنۍ ته ۱۲۵۴۰ افغانۍ ورکړل شوې.

۱۶- پکتیا کې د IOM,WF,IRC او یونسیف سازمان د پېښو له امله ۱۸۰ زیانمنو او اړمنو کورنیو سره د خوراکي، نغدو پیسو او غیر خوراکي توکو مرستې ترسره کړې دي.